PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت پنځم کال، ۴ مه ګڼه، پرله پسې ۲۰۳ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۲ هـ ل د وری ۲۸ مه د۱۴۳۴ هـ ق د جمادی الثانی ۷ مه د۲۰۱۳ م د اپریل ۱۷ مه

درس قرآن

او ای انسانه! نه نه ګورې چې الله پاک د ځمکې ټول څیزونه درته تابع کړي. او هغه کښتی هم چې د الله په حکم په بحر کې چلیږي. او اسمان یې ټینګ نیولي چې دهغه له اجازې پرته په ځمکه راپرېوزي یې له شکه الله پاک په خلکو ډېر مهربان او ډېر رحم والا دی. او الله هغه ذات دی چې تاسې یې ژوندي کړئ بیا مو مړه کوي او بیا مو بیرته راژوندي کوي. ربښتیا هم چې انسان ډېر ناشکره دی. (سورة الحج: ٦٥ - ٦٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابوسعید الخدری رضی الله عنه روایت شده که گفت:

از رسول الله صلی الله علیه وسلم شنیدم که می فرمود: هرگاه کسی از شما کار بدی را دید باید آنرا بدست خویش تغییر دهد، اگر نتوانست بزبان خود آنرا منع کند و اگر نتوانست بدل خود از آن بد ببرد و این ضعیف ترین مرحلهء ایمان است. (ریاض الصالحین)

دعوا بالای جایداد های مکاتب از سوی مافیایی زمین

هر وقتی که زمین مورد دعوا قرار گرفت ما بالای آن مکتب را ساختمان کرده نمی توانیم، ناچار هستیم تا زمانی که محکمه نهایی فیصله نکند ما مکتب را ساخته نمی توانیم اما امروز تعداد زیادی از مکاتب ما و زمین های که ما می خواهیم بالای آن مکتب اعمار نماییم مورد دعوای متخلفین است. (فاروق وردگ)

کابل، رسانه ها:

مقام های وزارت معارف افغانستان دعوا بالای جایداد های مکاتب از سوی مافیایی زمین را یکی از مشکلات اساسی فرا راه اعمار مکاتب در این کشور عنوان می کنند.

داکتر فاروق وردگ وزیر معارف می گوید، غاصبین زمین جایداد های ده ها مکتب را در بسیاری از ولایات کشور تصرف کرده و دعوا ملکیت آنرا کرده اند.

وزیر معارف به روز سه شنبه در مراسم افتتاح نخستین انستیتوت اکمال تخصص معلمین داخل خدمت در کابل گفت، تا زمانی که دعوا میان غاصبین و مسوولان وزارت معارف در محکمه نهایی نشود...

بقیه در صفحه ۴

د ځرخې پله د سیاسي او جناحي بلاکونو یو شمېر بندیانو خپلې شونډې وګنډلې

د خینو بندیانو پر بدونونو د وهلو ټکولو یا شکنجې نښې هم تر سترګو کېږي او خیني نور یې تر هغه حده وهل شوي چې بدنونه یې په وینو رنګ دي او بې سیکه د کوټو یوې اوبلې خو اته پراته دي

تاند:

د افغانستان په تر ټولو لوی د ځرخي پله په محبس کې په لسګونو تنو بندیانو د هغه څه په سبب چې دوی یې زور زیاتی او د دوسیو نه څېړل بولي د نه خوړلو په اعتصاب لاس پوري کړی.

د سیاسي او جنایي بلاکونو یو شمیر بندیانو په دغه اعتراض کې خپلې شونډې هم ګنډلي دي.

هغوی وایي حکومتي پولیس ورسره ناوړه چلند کوي، ...

پاتې ۴ مخ

پاکستان منلې، چې له ډیورنډ کرښې په دروازه لېرې کړي

د یوولسو امنیتي پوستو په اړه چې د دې دروازې په اوږدو کې پرتې دي هم خبرې وشوې، د پاکستان نظر دا و چې دا پوستې په ۲۰۰۳ دریم میلادي کال کې جوړې شوې

کابل، رسنۍ:

افغان چارواکي وایي، پاکستان منلې چې د ننګرهار په ګوشتې ولسوالی کې د ډیورنډ پر صفري نقطې جوړه کړې دروازه بېرته لیرې کړي.

پاکستان وروسته له هغې دغه بریکړه کړې،...

پاتې ۴ مخ

برخی از وزرا و والیان در فساد دخیل اند

ما با خارنوالی درقسمت رسیدگی به دوسیه های فساد اداری مشکل داریم؛ به همین دلیل چندین بار به ریس جمهور پیشنهاد کردیم که حداقل خارنوالی مبارزه با فساد اداری را ازتگاه اجراآت، مربوط اداره عالی مبارزه بافساداداری نماید تا بدانیم که دوسیه های ما تا کجا میرود و بالاخره چه میشود!

کابل، پژواک:

ادارهٔ عالی مبارزه با فساداداری، لوی خارنوالی را متهم به عدم رسیدگی به دوسیه های فساد نموده، میگوید که ۱۹۰ دوسیه را به شمول قضایای وزرا، والیان و شاروالها به این نهاد فرستاده؛ اما

بقیه در صفحه ۴

اعتصاب کوونکي:

حاجي ظاهر قدیر او ورور یې زموږ د ځمکو ستونزه نه راحلوي

اووه کاله مخکې حاجي جمال موږ نه پیسې واخیستي وېل یې، چې ځمکه درکوو خو هېڅ معلومات یې ونشو، بیا اووه میاشتې مخکې جرګه وشوه، چې مشکل حل کړي، خو نه یوازې دا چې مشکل حل نه شو، بلکې هغه د مجلس رویې هم ورکې شوې

کابل، رسنۍ:

د سې شنبې په ورځ په لسګونو کسانو، د ننګرهار ولایت مخې ته د خیمو لاندې د نه خوړو اعتصاب پیل کړ.

دغو اعتصاب کوونکو، چې د حاجي ظاهر قدیر او ملګرو پر ضد یې شعارونه ځرول وو، وایي، چې شاوخوا درې کاله وړاندې حاجي جمال، چې د حاجي ظاهر ورور دی، د سرخرود ولسوالۍ په قدیر مینه کې پر دوی ځمکې ځرځې کړې او پیسې یې ترې اخیستې وې، خو د ځمکې د ویش مشکل یې ورته تر اوسه نه دی حل کړی.

اعتصاب کوونکو ازادی راډیو ته وویل، چې اووه میاشتې وړاندې د ولسي جرګې غړي حاجي ظاهر، چې د جمال قدیر ورور دی له دوی سره ژمنه کړې وه، چې دوی ته به خپل حق ورکوي، خو بیا هم سره له دې چې ...

پاتې ۴ مخ

د ولسمشر کرزي سره د الجزیرې نړیوال تلویزیون مرکه

د امریکایانو د کړنو په اړه زموږ مخالفت په ۲۰۰۵ کې پیل په ۲۰۰۶ اضافه او په ۲۰۰۷ کې بلکل په علني ډول ځرګند شو (کرزی)

ډېر خلک دا وایي چې د امریکایانو د کړنو په اړه ستاسو مخالفت واقعي مخالفت نه، بلکې ددې لپاره دی چې تاسو له خانه هغه تورونو لیرې کړی چې تاسو د امریکایانو د لاس آله بولي! (احمد منصور - ژونالیست)

(لومړی برخه)- دریم مخ

غزنی؛ مرکز فرهنگ و تمدن اسلامی

شهر تاریخی غزنی پایتخت امپراطوری غزنویان که زمانی سرزمین های وسیعی از قارهٔ آسیا شامل نیم قاره هند، ماوراءالنهر و خراسان تا کناره های دریای دجله را دربر می گرفت، مرکز بزرگ سیاسی، اقتصادی، نظامی، فرهنگی و تقاطع تمدن های شرق و غرب به شمار می رفت. اما با گذشت زمان باالتدریج بلاد عدیده ای این سرزمین یکی پی دیگر از پیکرهٔ اصلی آن یعنی خراسان یا افغانستان امروز جدا گردیده و به کشورهای مستقلی تبدیل شدند. ...

بقیه در صفحه سوم

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

بل چاته د سوال کچکول په نیولو سره سوله نه راځي

د افغانستان خاوره د افغانانو ده، پخپل تاریخ کې افغانانو کله هم د خپلې خاورې له دفاع او ساتنې څخه غفلت نه دی کړی او نه یې هم چاته اجازه ورکړی چې د افغانستان خاوره اشغال او پخپل تصرف کې راولي.

لکه څنگه چې موږ دا نشو زغملې چې څوک دی د افغانستان په یوه لویشت زمکه دعوه وکړي او تر خپلې واکمنۍ لاندې راولي همداسې دا هم نه شو زغملې چې د پردیو په مستقیمو او غیرمستقیمو لاسوهنو سره په افغانستان کې د خپلې خوښې او گټې مطابق د سولې آواز اوچت کړي او راتلونکی لپاره د همدغې سولې په بدل کې خپلې ناولي موخې پرمخ بوځي.

دا ډېره د بې غیرتۍ خبره ده چې وایو: له فلان او فلان هېواد له مرستې پرته په افغانستان کې سوله نشي راتلې، په داسې ویناو په حقیقت کې هغوی ته پخپل لاس دا فرصت او جرئت ورکول دي چې په افغانستان کې نور هم په بشپړه زړه ورتیا لاسوهنه وکړي.

نه ښئ افغانان دومره د کمزورې ارادی خاوندان شي چې پخپل هېواد کې سوله هم نورو هېوادو ته د ملنگۍ د کچکول په نیولو سره وغواړي، آخر هغه به څه سوله وي چې د پردیو په وړاندې د سوال د لاسونو په غځولو راشي؟! اصلاً هغه سوله نه، بلکې د پردیو شرایطو او فرمایشونو ته د غلامۍ سر ایښودل دي.

که موږ افغانان واقعاً پخپلو زړونو کې د خپلو اسلافو د برم او د خپلو شهیدانو د قربانیو احترام لرو او د پخوا په څېر آزاد او مستقل ژوند غواړو نو بیا دا ډېر د شرم او بې غیرتۍ خبره ده چې ووایو که فلانکی هېواد په افغانستان کې د سولې د راتلو په اړه رښتونی مرسته ونکړي په افغانستان کې سوله نشي راتلې.

موږ دا خبره باید د کاڼې کرښه وگڼو چې پردي هېوادونه په هېڅصورت کې سوله نه غواړي ځکه چې په افغانستان کې سوله دهغوی گټې تهدیدوي او هر کال په ملیاردونه ډالره تجارتي تاوان کوي، افغانستان دهغوی د مالونو د خرڅلاو لپاره یوه آسانه منډۍ ده، که په افغانستان کې سوله او امن راشي نو طبعي خبره ده چې ورسره جوخت به د ژوند په گڼو ډگرونو کې پرمختگونه هم وشي، د خپل اړتیا وړ ډیرې توکي به پخپله په افغانستان کې تولید شي او هغه پریمانه سرمایه چې نورو هېوادو ته ورځي په افغانستان کې به پاتې کېږي نو ځکه هېڅ یو هېواد د دومره لویو گټو د قربانولو لپاره نه چمتو کېږي.

افغانان به تر هغه د واقعي امن پر خوږو پوه نشي تر څو پورې چې پخپل پلرنۍ ټاټوبي کې پخپله خوښه او پخپل نوښت امن رانه ولي. کوم امن چې افغانان د پردیو د فرمایشونو په منلو سره ومنې هغه به په حقیقت کې په گوړو کې د زهرو د خوړلو په معنی وي.

که پردي هېوادونه د تیر په څېر په افغانستان کې د رښتوني سولې د راوستو لپاره مرستې ونه کړي نو آیا موږ افغانان به لاس تر زنې دهغوی رحم او کرم ته کینو او که د خپلې ایماني او ملي وجیبې د ترسره کولو لپاره به چټک گامونه اوچتوو؟! په دې واقعیت باید ځان پوه کړو چې د ژوندیو او غیورو ملتونو کار دا نه دی چې د بل چا رحم او کرم ته په انتظار کیني، بلکې دهغوی کار دا دی چې پخپله د همت ملا وتړي او د هر ډول ستونزو څخه د خلاصون د ترلاسه کولو لپاره پخپله حرکت وکړي.

که موږ افغانان واقعاً خپله خاوره خپل ناموس گڼو او پردیو ته اجازه نه ورکوو چې زموږ ناموس ته په کږه سترگه وگوري نو بیا ددې خاورې سرنوشت به هم موږ پخپله ټاکو، او سوله به هم موږ پخپله راولو، دا د بې ننگۍ او بې غیرتۍ خبره به کله هم له خولې نه راوباسو چې نور دې موږ ته سوله راولي. که موږ دومره بې خونده یو چې لږ تر لږه پخپل گډ کور کې سوله قدرې هم پخپله نشو راوستلې نو بیا موږ دا حق نه لرو چې خپل ځانو ته د احمدشاه ابدالي، سلطان محمود غزنوي، شیرشاه سوري او شهاب الدین غوري اولاده ووایو او دهغوی شهامت او غیرت پخپلو بې غیرتیو داغ دار کړو.

د ولسمشر کرزي سره د الجزیرې نړیوال تلویزیون مرکه

یادښت:
تیره اونۍ حامد کرزي قطرهیواد ته دسفر په مهال له الجزیره نړیوالې تلویزوني شبکې سره(د نړیوالو خواکونو ترشاتگ وروسته افغانستان)ترسرلیک لاندې یوه تفصیلي او په زړه پورې مرکه کړې.
په دغې مرکې کې حامد کرزي دافغانستان دولسمشر په حیث پوشمیر ناویلي حقائق راسپړلي او دافغاني لانجې په ډېرو پټوار خونو څه رڼا اچولې او ډېر په زړه پورې اعترافات یې کړي.
له همدې امله یې ما دژباړلو ضرورت احساس کړ ،هیله ده دراته لوستونکي یې دحوصلې په لرلو سره ترپایه ولولي او دخپل هیواد دپټو حقایقو په اړه ترې معلومات ترلاسه کړي.
ژباړونکی: عبدالرحیم (ثاقب)
دمرکې سرلیک: د نړیوالو خواکونو ترشاتگ وروسته افغانستان !
مرکه کوونکی: احمد منصور
دپروگرام میلمه: دافغانستان ولس مشر حامد کرزی.
دخپریدو نیټه: ۳/۴/۲۰۱۳

دافغانستان دحکومت لاسته راوړنې

احمد منصورتاسو د۲۰۰۱ کال د دسمبرله میاشتې تراوسه پوره دولس کاله دافغانستان ولس مشر پاته شوي یاستئ
ستاسې له انتخابیدو وروسته ستاسې په مخ کې درې مهمې ستونزې وې چې هغه دطالبانو او القاعده له منځه وړل، دسولې ټینگښت ، اودهغه افغانستان بیاودانول وه چې دیرش کلنې جگړې سخت ځپلی ، خو ستاسې دواکمنۍ په ۱۲ کلنه دوره کې په دې درېو مواردو کې هیڅ هم نه دي ترلاسه شوي ولې؟
حامد کرزي: کوم درې هدفه چې تاسې ورته اشاره وکړه په تیره دطالبانو له منځه وړل ،دامنیت تأمین ،اوبیاودانول ، زه به دهریوه په اړه بیلابیل توضیحات درکړم:
دطالبانو دله منځه وړلو په اړه نه موږ اونه هم افغان ولس اونه دافغانستان حکومت کوم پروگرام طرحه کړی ،کله چې زه دافغانستان ولس مشر شوم زه هماغه مهال په کندهارکې وم هغه وخت ما ټولو طالبانو ته دهغوئ دمشر په شمول عمومي بښنه اعلان کړه اوله دې کار څخه مې موخه داوه چې طالبان بیرته دخپلې ټولنې یوه برخه وگرځي ،چې په دې اړه زه ویلای شم چې نه اوس اونه هم هغه وخت موږ دطالبانو دله منځه وړلو په فکرکې وو ، اوس هم موږ هغوئ ته وروڼه وایو او زه دا هیله لرم چې هغوئ له موږ سره په ټولنه کې گډ ژوند غوره کړي.
دامنیت دتأمین په برخه کې رښتیاهم موږ څه نه دي کړي اوپه دې اړه موږ له ډېرو مشکلاتو سره مخ یو ، یو ددغو مشکلاتو څخه دترهگرې په خلاف جگړه ده چې دامریکایانو او نړیوالې ټولنې له خوا په داسې ډول پیل شوې چې باید هغسې نه وای ، له پیل نه موږ ویل چې په دغه جگړه کې باید افغانان هدف ونه گرځي اونه دغه جگړه زموږپه کلیو اوښارونوکې اوسي، بلکې دافغانستان اوفغانانوپه ځای باید په دې جگړه کې دتروریستانوهغه ځالې چې له افغانستانه بهر وجود لري هغه په نښه شي ،ځکه نو ویلای شو چې موږ ددغې جگړې لومړني مسؤلین نه یو.
أحمد منصور: مگردغه جگړه خوستاسې په خمکه کې پیل اوروانه ده؟
حامد کرزاي: هوله بده مرغه.
أحمد منصور: تاسوخو دجگړې دپیل په مهال دحکومت مشروئ ایانه موشوای کولای چې هغه ودروئ؟
حامد کرزاي: هو ! زه دحکومت مشروم خو مایې هم مخالفت وکړ.
أحمد منصور: موږخودامریکایانو دکړنوپه مقابل کې ستاسې دمخالفت کوم څرک نه دی لیدلی؟
حامد کرزاي: نه !تاسوخبر نه یاست موږیې مخالفت کړی
أحمد منصور: ایله اوس مو مخالفت کړی؟
حامد کرزاي: نه ! کم ترکمه دامریکایانو دکړنوپه اړه زموږمخالفت په ۲۰۰۵ کال کې پیل په ۲۰۰۷ کې اضافه او په ۲۰۰۷ کې بلکل په علني ډول څرگند شو.
أحمد منصور: ډېر خلگ داوایي چې دامریکایانو دکړنوپه اړه ستاسې دغه مخالفت واقعي مخالفت نه ،بلکې هسې ددې لپاره دی چې تاسوله ځانه هغه تورونه لیرې کړئ چې خلگ تاسو دامریکایانو دلاس آله بولي؟

حامد کرزاي هو !دغه تورونه په ماباندې ډیر دغو کسانو لخوا پورې کیږي چې زه غواړم دافغانستان له نورتباه کولو څخه دهغوئ لاسونه ورلنډکړم ،له همدې امله دغه تورونه په ما بد نه لگیږي
اوس به راسو دوهمې نقطې ته چې هغه دافغانستان بیاودانول دی ، موږ دنړیوالې ټولنې ، دامریکایانو اونورو ایتلافیانو اوهمدارزاړدسیمه ایزو ایتلافیانو لکه هند ،جاپان اونورو په مرسته د۲۰۰۲ کال تروضعیت یوبیل شانې وضعیت لرو هغه وخت زموږپه ښونځیوکې یواځې ۵۰۰ زره زده کوونکي ول خو اوس هغه تریومیلیون زیات دي او هغه وخت موږ په پوهنتونوکې یواځې ۴۰۰۰ محصلین لرل خو اوس دهغوئ شمیره سل زره ته لوړه شوې همداراز زموږ دمحلي محصولاتو کچه له ۲ملیاردو څخه ۲۰ اویاهم ۲۲ میلیاردوته لوړه شوې
أحمد منصور: هوخلگ وایي چې ستاسې محصولات یواځې دنشه یې توکوپه برخه کې زیات شوي نورهرڅه په ټپه ولاړدی؟
حامد کرزاي: نه داخبره ناسمه ده دابلکل ناسمه خبره ده ، موږچې کوم محصولات یادوو هغه دافغاني اقتصاد په بیلابیلو برخو پورې تړاولري نشه یې توکې نشته پکې
أحمد منصور، له طالبانوسره مو اړیکې څرنگه دی؟
حامد کرزاي: زه طالبان پیژنم ،هغوئ دپخواني شوروي اتحاد په خلاف دجهاد له وخته پیژنم او له هغه وخته یې پیژنم چې کله یې نوی خپل تحریک پیل کړ، هماغه وخت زه هم ددوئ یوه برخه وم
أحمد منصور: له ملامحمد عمرسره مو لیدلي؟
حامد کرزاي: نه !هغه مې نه دی لیدلی ، توموړی په ۱۹۹۴ کې دیوه شخصیت په توگه مشهور شو ترهغه وخت مخکې ما هغه نه پیژاند اونه مې ورسره رابطه وه.

دامریکایانواوطالبانو ترمنځ مذاکرات

أحمد منصور: اوسمهال دطالبانو اوامریکایانوترمنځ دمذاکراتو خبرې ډېرې گرمې دي ،امریکایان له طالبانو سره په فرانسه ،جاپان،او همدلته په دوحه (قطر) کې اوپه نوروځایونوکې...
ته په امریکایانو دانیوکې کوې چې هغوئ لتا پسې شا له طالبانوسره خبرې کوي او تا هیڅ وربانديې خبروي نه؟
حامد کرزاي دسولې پروسه په رسمي ډول دافغانانو لخوا په کال ۲۰۱۰ کې دلویې جرگې چې هغه دافغانانو یوه ملي عنعنه ده پیل شوی او ددغې پروسې لپاره فقید مشر استاد رباني انتخاب شوچې هغه دسولې دعالي شورا ترنامه لاندې په رسمې ډول خپل کارته دوام ورکړ.
هغه مهال زموږ نړیوالو اوغربي دوستانو زموږ ددغو هڅو ملاتړنه کاوه ، دسولې په پروسه کې تش په نوم غربي ملاتړ له موږسره یواځې تیرکال دبن په کانفرانس کې پیل شو چې له هغه راوروسته دطالبانو او امریکایانو اودطالبانو اونورو هیوادونوترمنځ تماسونه پیل شول . خوزموږاوطالبانو ترمنځ تماسونه له تیرو ۱۰ کلونوراهیسې ترنن ورځې پورې دوام لري ،خودسولې هغه رسمي پروسه چې دهغې په اساس موږ غواړو په قطرکې دې دطالبانولپاره دفتر خلاص شي تراوسه نده پیل شوي موږ هیله من یوچې دافغان ولس دخیرښیگڼې په غرض هغه هم ژرپیل شي.
أحمد منصور: دطالبانو او امریکایانو ترمنځ دپټو مذاکراتو په اړه ستا دریځ څه دی؟
حامد کرزاي: موږله پیل نه له هغه سره نه یو موافق او دهغه په خلاف موخپل احتجاج وړاندې کړی ،ځکه هغه هیڅ نتیجه نه ورکوي ،خو امریکایان هغه غواړي او له طالبانوسره یې تماسونه پیل کړي او دغه تماسونه یې هم دافغانستان دحکومت او سولې شورا

له خبرتیا پرته پیل کړي چې دا دهیڅ لوري لپاره هیڅ راز ثمره هم نشي لرلای
أحمد منصور: ایا دا خبره دامانالري چې تاسې دامریکایانو له دغو کارونو څخه ناخوښ یاست؟
حامد کرزاي: هو حتما !موږهغوئ ته په ښکاره توگه خپل نظر څرگند کړیاودامو ورته ویلي چې دسولې پروسه باید دافغان لوری تر مشرئ لاندې پرمخ بوتلل شي او دغه کار هم دافغانستان په مصلحت ده او هم دافغان ولس په گټه ده چې له دې پرته هیڅ دبریالی توب چانس هم نشي لرلای
أحمد منصور: ایا له تاسو سره دا ویره نشته چې امریکایان دغه مذاکرت ددې لپاره کوي چې ستاسې دنظام په ځای طالبان په واک راولي؟
حامد کرزاي: زه خو له دې نه یم خبر چې امریکایان غواړي دواکمن نظام په ځای طالبان واکمن کړي ، زه فکرنه کوم چې امریکایان دې داسې نظر ولري اوکه یې احیانا دغسې نظروي هم هغه به بریالی نه وي
ځکه امریکایان اوټول بهرنیان نشي کولای ټول هغه څه ترلاسه کړي چې دوئ یې په افغانستان کې غواړي ، ته په دې پوه شه چې هغه افغان ولس چې زرگونه کلونه تاریخ لري هغوئ دبهرنیانو دمقابلې په طریقه ښه پوهیږي او دغه هرڅه تاریخ ښه ثابت کړي، له همدې امله نه امریکایان اونه هم نوربهرنیان په افغانستان کې دبریالیتوب چانس لري اونه دغه کار بغیر دافغانانوله مرستې شونې دی.
هغه تکلارې او سیاستونه چې دیوې دسیسې په شکل په افغانانوتپل کیږي، هغه په هیڅ صورت په افغانستان کې دموفقیت چانس نه لري دغه تکلارې که دانگریزانودې ،که دشوروریانو دی اوکه په راتلونکي کې نورې وې
أحمد منصور: ښه نوچې داسې ده بیا ستاسې له نظره په افغانستان باندې دشوروي یرغل کوم چې افغانانویې ډیرکلونه مقابله وکوله اودهغه امریکایي یرغل ترمنځ چې ته یې په سیوري کې واک ته ورسول شوي څه فرق شته؟
حامد کرزاي: هو ! ډېر فرق یې ده ترمنځ
أحمد منصور: څه فرق یې دی؟
تاسې له شوروریانوسره ترهغوجگړه وکړه چې هغوئ موله وطنه وایستل خو اوس دهغوئ په ځای امریکایان راغلل؟
حامد کرزاي: هو ! ددې ترمنځ ډېر ښکاره توپیرشته دی.
أحمد منصور: هغه څه دی؟
حامد کرزاي: ښکاره توپیرلري: دشوروي اتحاد خواکونه خو په افغانستان کې ښکاره یرغلگروه.
أحمد منصور: امریکایان خو هم ښکاره یرغلگردي؟
حامد کرزاي: خواهش کوم- خواهش کوم !
أحمد منصور: مهرباني وکړئ هغه فرق یې راته توضیح کړئ!
حامد کرزاي: افغانستان ته دامریکایانو راتگ دملگروملتونو دامنیت شوراپه موافقه ترسره شو، ټولې نړۍ دهغوئ ملاتړوکړ، روسانو، چینایانو او چینایانو یې مرسته وکوله ، پاکستانیانو خپل فضایي حریم دهغوئ په خدمت کې ورکړ، همدا راز هند له هغوئ سره مرسته وکوله همداټول حاضرول چې په بون کې دافغانستان دانتقالي اداري تاسیس وشو. چې له همدې امله دشوروریانو اوامریکایانو دراتگ ترمنځ ډېر فرق دی . افغانستان ته دامریکایانوراتگ دنړیوالې ټولنې په موافقه او دهغوئ په هڅو ترسره شو چې ټوله اسلامي او غیراسلامي نړۍ هم د امریکایانو ملاتړې او دهغوئ مؤیده وه ،اوپه پیل کې افغان ولس هم دغه کار دخپل ځان دآزادې لامل وباله چې په حقیقت کې دغه کار له کډوډې او دایران دلاس وهنې...

پاتې ۳ مخ

غزنی؛ مرکز فرهنگ و تمدن اسلامی

(ادامه، از صفحه اول)

افغانستان در طول تاریخ به مثابهٔ یکی از مراکز مهم سیاسی، فرهنگی و تمدنی قارهٔ آسیا از جایگاه بلندی برخوردار است که موجودیت آثار باستانی و یافته های میراث های فرهنگی و مجموعه های ادبی و هنری بجا مانده از گذشتگان این خطه شاهد خوب این مدعا است. افغان ها طی توالی قرون و اعصار پرفراز و نشیب تاریخ، آنچه را که فراموش نکرده اند و در سخت ترین شرایط هم از آن پاسداری کرده اند، عبارت از فرهنگ غنی و تمدن درخشان این خطه می باشد و مزید برآن ارجگذاری به مقام گردانندگان فرهنگ و تمدن این سرزمین باستانی؛ آنچه که امروز باعث شده تا دنیای اسلام، افغانستان را به دیدهٔ احترام بنگرد، نخست منوط می شود به شجاعت و مجاهدت افغان ها که در طول تاریخ در مصاف با زورگویان و جهان گشایان مردانه رزمیدند و طلسم سلطهٔ اشغالگرانه آنها را درهم شکسته اند و در ثانی الهام می گیرد از خاطرهٔ شکوه و عظمت پارینهٔ این سرزمین که در گذشته با حکمروایی بر نیمی از قارهٔ آسیا، یکی از امپراطوری های بزرگ جهان به شمار می رفت.

در میان ادوار تاریخی، دورهٔ غزنویان در کشور ما از جایگاه خاصی برخوردار است، درین دوره شاهان غزنه با لشکرکشی از غزنی به استقامت های شرق، شمال و غرب، امپراطوری پهناوری را تأسیس کردند که از استقامت شرق بطرف غرب از دریای گنگا در هند تا دریای دجله در عراق امتداد داشت و از استقامت شمال بطرف جنوب، از رود سیحون در ماوره النهر تا بحر هند وسعت داشت.

از آنجائیکه شاهان غزنه به گواهی تاریخ بیشترین نقش را در ترویج دین اسلام در قارهٔ آسیا داشت، سازمان آیسسکو تصمیم گرفت که به پاس خدمات و مجاهدت های شاهان و رزمندگان غزنه، در سال ۲۰۱۳ شهر غزنی را به عنوان پایتخت فرهنگ و تمدن اسلامی بنامد، مراسم این نامگذاری با حضور وزرای فرهنگ کشورهای اسلامی در هفتهٔ روان برگزار گردید. البته قسمت دوم و پایانی مراسم نامگذاری شهر غزنی به اسم مرکز ثقافت اسلامی در ماه میزان برگزار خواهد گردید.

از آنجائیکه شهر غزنی در قلب افغانستان موقعیت دارد، کشور ما میراث دار گذشته باستانی و تمدنی این شهر می باشد و بر افغان هاست تا پیشینهٔ تاریخی و فرهنگی غزنی را احیا نموده و عظمت و شوکت گذشته آن را متجلی سازد تا باشد که غزنی به جایگاه اصلی آن قرار بگیرد.

چند سال قبل سازمان علمی، فرهنگی و آموزشی کشورهای اسلامی (آیسسکو) در گردهمایی وزرای فرهنگی کشورهای اسلامی منعقدهٔ مراکش فیصله کردند که در سال ۲۰۱۳ شهر غزنی را به عنوان مرکز ثقافت یا پایتخت فرهنگ و تمدن دنیای اسلام نامگذاری نماید؛ از آن زمان تا اکنون کارهای مقدماتی برای مرکز شدن با احداث هشتاد پروژهٔ بازسازی و زیربنایی برای آماده سازی این شهر به حیث مرکز ثقافت اسلامی روی دست گرفته شد که بنابر گزارش مقامات دست اندرکار وزارت اطلاعات و فرهنگ و ولایت غزنی کار برخی از این پروژه ها پایان یافته و برخی دیگر آن تا ماه میزان سال جاری به پایهٔ اکمال خواهد رسید.

برگزاری مراسم نهایی بخاطر بازدید از کار پروژه های در دست اجراء و اعلام تکمیل پروژه های مرکز ثقافت اسلامی درین ولایت می باشد. گزارش حاکی است که در مراسم نامگذاری علاوه از وزرای فرهنگ کشورهای اسلامی و هیأت های معیتی ایشان، جمع غفیری از مدیران، دانشمندان فرهنگیان و فرهیختگان افغان از مرکز و ولایات کشور درین مراسم دعوت شده بودند و مقامات امنیتی کشور از اتخاذ تدابیر شدید امنیتی برای برگذاری مصؤون این مراسم و پذیرایی از مهمانان خارجی و داخلی اطمینان دادند.

منابع نزدیک به کمسیون بازسازی و نوسازی شهر غزنی، از مصرف پنجاه ملیون دالر در پروژه های گوناگون از جمله بازسازی منارها، اماکن تاریخی، مذهبی و آرامگاه ها و همچنان بازسازی زیربناهای فرهنگی و اقتصادی ولایت غزنی به مصرف رسیده است.

بدون شک نامگذاری شهر غزنی به عنوان مرکز فرهنگ و تمدن اسلامی، افتخار بزرگ ملی و مذهبی برای فرد فرد ملت افغان است و کسب این افتخار، دین بزرگی را به ذمهٔ افغان ها می گذارد تا علاوه از بازسازی شهر و نوسازی غزنی سهم شان را در احیا و پاسداری از فرهنگ و تمدن پارینهٔ این سرزمین اسلامی در تمام ابعاد ایفا نمایند.

نامگذاری شهر غزنه بنام مرکز ثقافت اسلامی، در حقیقت پذیرفتن دولت افغانستان بحیث مرکز فرهنگ و تمدن اسلامی است و این نامگذاری منحصر به سال ۲۰۱۳ نمی ماند، بلکه افغانستان با شهر غزنه و سایر بلاد مشهور و باستانی اش برای همیشه مرکز فکری، فرهنگی و معنوی دنیای اسلام باقی خواهد ماند، زیرا مجاهدت ها و قهرمانی رزمندگان، صریر قلم علماء و دانشمندان و نوای دلنشین ادبا و شاعران، استعداد بالفعل و بالقوهٔ جوانان افغانستان، شایستگی آن را دارد که سرزمین ما این افتخار را در درازمدت حفظ نماید.

شهید محمد آغا (منیب)

این یک حقیقت است که مرگ دنبال هر نفس زنده در کمین نشسته است و هر لحظهء حیات را تهدید میکند قلب مملو از ایمان و تقوا متیقن به سنت الهی بوده وقت آن معین از جانب الله جل جلاله می باشد، انسان مؤمن هیچگاه از مرگ نمی هراسد بلکه برای رسیدن به موعود اجل هر لحظه آمادگی میگیرد.

به سلسله نشر کارنامه های شهدای گمنام راه خدا، اینک خاطراتی شهیدی را رقم می زنیم که اخیراً به لشکر شهداء پیوسته و خاطرهٔ تلاش های دعوتگرانه اش، قلب بستگان و دوستانش را محزون نموده است.

چهرهٔ که همیش در گفتار و رفتارش ترس از خداوند جل جلاله و ترس از قبر و عذاب قبر بود. و میگفت خوش بحال کسیکه با لبخند به استقبال شهادت می رود. این چهرهٔ مبارز و اندیشمند محمدآغا (منیب) فرزند حاجی محمد قاسم، در یک خانوادهٔ متدین و خداپرست در سال ۱۳۵۳ هـ ش در منطقه چکری مربوط ولایت کابل دیده به جهان گشود. وی دروس دینی ابتدائی خود را در مسجد محل از امام مسجد آموخت او در اواخر سال ۱۳۵۸ با تمام خانواده اش بعد از آمدن قشون سرخ و اشغال کشور توسط آنها و از اثر ظلم و جبر سردمداران کمونیست شان مجبور به ترک وطن گردید. وی در دیار هجرت در سال ۱۳۶۰ شامل دورهٔ مدرسه امام اعظم رحمت الله علیه واقع پشاور گردید، تا اینکه در سال ۱۳۷۲ بدرجه ممتاز فارغ گردید. وی در پهلوی اینکه دروس خود را با تحمل رنج و تکلیف دیار هجرت و صدها کیلومتر دور از فامیل ادامه میداد، همواره نظر به شوق و علاقهٔ مفرط که به جهاد مقدس داشت به خصوص در ایام رخصتی سه ماهه با حلقهٔ از جوانان مربوط به تنظیم محصلین که مسؤول آن بود. روانهٔ سنگرهای داغ جهاد می شد. با اندوخته های دینی و فصاحت و بلاغت که داشت وظیفه مقدس ارشاد و دعوت را در میان برادران مجاهد خود پیش می برد و در راستای وحدت و یک پارچگی مجاهدین از هیچ گونه سعی و تلاش دریغ نمی ورزید.

موصوف رحمه الله نظر به شوق و علاقه که به ادامه اکمال تحصیل داشت همزمان با فراغت از مدرسه مذکور شامل پوهنحی شرعیات پوهنتون دعوت و جهاد گردید، که بالاخره در سال ۱۳۷۶ هـ ش از آن پوهنتون به درجه اعلی فارغ گردید، بعد از فراغت پوهنتون بخاطر اینکه بتواند سویه علمی اش را بالا ببرد عازم کشور سعودی گردید در ضمن تعلیماتش برای رفع مشکلات اقتصادی در یکی از شرکت ها کار میکرد، چون در مکتب اسلام تربیه یافته بود بکار دعوت ادامه میداد او همصنفان دوره مدرسه و پوهنتون را خیلی دوست میداشت. از طرف آنها دعوت می شد تا پست حساسی را انتخاب نماید ولی این خواست ها را رد میکرد و میگفت: یک داعی مسلمان که سالهای زیاد عمرش را در دیار هجرت و جهاد، با کسب علم و معرفت با اندیشه، طرز و تفکر اسلامی سپری نموده باشد لازم است که بالای زخم های مردمش مرهم بگذارد نه اینکه بنزین بپاشد، او همیشه در مناقشه و منازعه با همقطاران و همصنفانش بود.

شهید (منیب) عادت داشت زمانیکه از خارج وارد کشور می شد جمعی از همصنفانش را دور خود جمع میکرد و به آنها توصیه میکرد که نعمات ابدی آخرت تانرا در مقابل متاع دنیا عوض نکنید.

نامبرده از مقدرات الهی در یک حادثه المناک ترافیکی در دیار مسافری در شهر (سحاکا) عربستان سعودی روز دوشنبه بتاریخ ۲۰/۱۲/۱۳۹۱ هـ ش به جام شهادت نوشید و بعد از انتقال جنازه شان بوطن بتاریخ ۵/۱/۱۳۹۲ هـ ش روز دوشنبه با اشتراک هزاران نفر بعد از ادای نماز جنازه در قلعه محسن بتخاک در هدیره آبایی شان بخاک سپرده شد.

انا لله و انا الیه راجعون

روحش شاد و یادش برای همیش گرامی باد

د ولسمشر کرزي سره د ...

څخه دټول افغانستان ددآزدي په معنا وبلل شوځو وروسته بیا امریکایانو او دناټو ځواکونو هم ډیرې تیروتنې وکړې ،ځکه دوئ له ترهګرې سره جګړه په افغانستان کې پیل کړه چې افغانان له دې امله ډیر وکړیدل،حال داچې تروریزم دافغانستان په دننه کې نشته ،خوبیاهم ددوئ راتګ افغانستان ته په ګټه تمام شو.

أحمد منصور:

کومه ګټه؟ !کومه ګټه ؟! افغانستان خویې ټول تباه کړ ،امریکایانووربانډې بیولوژیکې وسلې وکارولې ،له بورانیوموډک بمونه یې وربانډې و ورول او دکلونوکلونو لپاره داهیوادیومخې تباه کړ.

له ۲۰۰۱ کال نه راهیسې برغلګر ځواکونه افغانانان وژنې ، چې افغاناتو له همدې امله له هغوئ سره مقابله کوي.

زمادډې بوښتنې ځواب راکړه ، دېروني بیرګ چې دشوروي ټانګ په سرافغانستان ته راوستل شو له نني کرزي سره چې دامریکایي الوتکې په وسیله هیواد ته راوړل شوځه توپیردی ؟

حامد کرزاي: نه ! داپرتله ناسمه ده ،دېرون اونن ترمنځ ډیر فرق دی ! زه درته وایم چې د امریکایانو راتګ دنړیوالې ټولنې دپریکړې له مخې شوی اونن په ټولې نړی کې مونږسفارتونه لرو او دشورویانو راتګ دنړیوالې ټولنې په خوښه نه وه.

أحمد منصور: خوله دې هرڅه سره بیاهم افغانستان اشغال شوی دی.

حامد کرزاي: نه ! خواهش کوم هیڅکله نه دی اشغال.

أحمد منصور: د دوولکوبهرنیو پوځیانو له راتګ سره بیاهم نه دیاشغال ؟

حامد کرزاي: ماته غوږشه ! زه دې دپوښتنې ځواب درکړم. دنړیوالې ټولنې ځینې کړنې زمونږ نه خوښیږي ، خودا کله هم داشغال مانا نه لري.

ددوئ ځینې کړنې دې چې مونږ ورسره باندې اختلاف لرو ، دټولو کارونو په ځپل واک کې اخیستل،په ولسي خلګوبمبارکول ،په کورنیوچاروکې مداخله کول ،په تولټاکنوکې ددوئ شرمونکې لاس وهنه کول... داټول ډیر بدکارونه دې چې دوئ یې کوي خوداهرڅه داشغال په مانا نه دې ...

أحمد منصور: ایا امریکایان په ریښتیاهم افغانستان ته دیوه خوریدلې ساده افغان د سوکالې لپاره راغلي او که دځپلوځانګړو موخو او اهدافو دترسره کولو لپاره ؟

حامد کرزاي: دایله پوښته ده ،دا بلکل جلا موضوع ده ،دا اشغال نه دی، خامخا هغوئ دځپلو ځانګړو موخواو خاصو غرضونو لپاره افغانستان ته راغلي ، هغوئ ځپل اهداف اعلان کړي ، هغوئ وایې چې مونږ ددې لپاره افغانستان ته راغلې یو چې ځپل هیوادونه مو په امن کې وي ،ځکه چې ...

أحمد منصور:

مګرهغوئ خو دلته دتباهي اوخرابي لپاره راغلي . ایاهغوئ دلته خرابي اوتباهي نه ده جوړه کړې؟

حامد کرزاي: نه ! ته ما لیږ پریږده چې زه ځپله خبره پوره کړم. هغوئ ځپل خاص اهداف لري ،هغوئ اهداف اعلان کړي، دوئ وایي چې مونږدلته له تروریزم سره دمقابلې لپاره راغلي یو.

هو ! خامخا دوئ نورخاص اهداف هم لري ،خوافغانستان هم ځپل مصلحتونه په نظرکې لریاودځپلو خاصو اهدافو لپاره کارکوي.

هو ! دامریکایانو،ناټو او آیساف ځواکونو راتګ افغانستان ته مثبت او منفي اړخونه دواړه لري.

أحمد منصور: مثبت اړخونه یې څه دی؟!

حامد کرزاي: زمونږ اوسنی اقتصادي حالت تریځوا ډیر ښه شوې ، اوس زمونږ دحلقوي سړکونو شبکه بشپړه شوې چې دا دافغانستان په تاریخ کې هم کله نه وه پوره شې، مونږاوس پوهنتونونه لرو،ښونځي لرو،ښه روغتیایي سیستم لرو ،ښه چاپیریال لرو، ښه تعلیمي نظام لرو اوداهرڅه په افغانستان کې دنړیوالې ټولنې دشتون له امله دی ،چې داټول ښه کارونه دی

أحمد منصور:

ددې په مقابل کې موتلفات څومره دي؟

حامد کرزاي: له بده مرغه چې تلفات مو ډیر زیات دی ، دولسي خلګو وژل ،په کورنیوچاروکې هغه لاس وهنه چې مونږډیر ځوروي اوډیرځله مو وربانډې احتجاج کړی.

دیلګې په توګه په ټاکنوکې دبهرنیانو دمداخلې او همدا راز دامنیتي کمپنیو او نورو چارو په اړه موډیر احتجاج کړی چې تردېره بریده مو اوس ځینې اصلاحات راوستي.

دغه ورځپاڼه د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت

خبرونکې اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي.
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالیږل شوي مطالب نه مستردېږي - یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

دعوا بالای جایداد های مکاتب ...

آنان نمی توانند اقدام به اعمار مکاتب نمایند.

"هر وقتی که زمین مورد دعوا قرار گرفت ما بالای آن مکتب را ساختمان کرده نمی توانیم، ناچار هستیم ما یک کشور قانون مند هستیم تا زمانی که محکمه نهایی فیصله نکند ما مکتب را ساخته نمی توانیم اما امروز تعداد زیادی از مکاتب ما و زمین های که ما می خواهیم بالای آن مکتب اعمار نماییم مورد دعوای متخلفین است و کسانی که از قرارداد ها میلیونر و میلیاردر شدند."

اما وزیر معارف به طور مشخص از کدام شخص و یا گروهی که جایداد مکاتب را غصب کرده اند، نام نگرفت.

مقام های وزارت معارف می گویند، از جمله ۱۶ هزار مکتب، هشت هزار آن به نسبت مشکلات مختلف بخصوص دعوا بالای جایداد های مکاتب اعمار نشده اند.

پیش از این نیز شاروالی کابل، وزارت زراعت و برخی از نهاد های دیگر دولتی نیز از غصب زمین های حکومتی در افغانستان سخن گفته اند.

آقای وردگ تاکید می کند که با وجود همه مشکلات در طول چند سال گذشته شماری زیادی از مکاتب، دارالمعلین ها و انستیتوت های تربیه معلم را ایجاد کرده اند.

این وزارت به روز سه شنبه نخستین انستیتیوت اکمال تخصص معلمین داخل خدمت را در کابل افتتاح کرد.

داکتر فاروق وردگ ایجاد این انستیتیوت را یکی از دست آورد های وزارت معارف خوانده و گفت، در این انستیتیوت معلمین داخل خدمت در بخش های تخنیکی و مسلکی از سوی ترینران خارجی تحت آموزش قرار می گیرند.

وزیر معارف همچنان از روی دست گرفتن شماری از برنامه های ۱۰ ساله برای انکشاف معارف نیز خبرداد.

"برنامه های که برای ۱۰ سال آینده روی دست داریم و راه های تمویل مطمین آنرا نیز جستجو کرده ایم خدا خواسته باشد در ۱۰ سال آینده افغانستان را در رقابت با نظام تعلیمی جهان قرار میدهیم."

مقام های وزارت معارف در حالی از تلاش ها به هدف بهبود معارف در افغانستان خبر می دهند که مردم از پایین بودن کیفیت تدریس و نبود استادان مسلکی در مناطق شان شکایت دارند.

مسوولان وزارت معارف هم نبودات مکاتب کافی، کمبود استادان مسلکی و چندین مشکل دیگر را تاید کرده می گویند که برای آن از چندین سال به این طرف تلاش دارند.

د څرخي پله د سیاسي او جناحي ...

وهل کېږي، دوی په وخت نه ورته رسول کېږي او حتی د رفع حاجت لپاره هم چې دوی غواړي تشنابونو ته ورشي د پولیسو له لوري په ساعتونو ساعتونو اجازه نه ورکول کېږي.

د مولوي محمد جان په نامه یو تن چې وايي د طالبانو د ډلې غړی دی او د څانمرګي برید د ترسره کېدو په تور بندي دی، وویل، له دوی سره ډېر ناوړه سلوک روان دی او دوی غواړي دنیا او د بشري حقونو ټولنې پر خپل حال خبرې کړي.

نوموړی چې د ننګرهار د ګوشتې ولسوالۍ اوسېدونکی دی، وايي: دی به د خپل مرګ تر پولې هم له خپل هدف څخه وانه وړي او همداسې به خپل اعتراض جاري ساتي.

ویل کېږي شاوخوا اویا تنو د سیاسي او نړدې پنځوستو تنو د جنايي بلاکونو بندیانو د څرخي پله په محبس کې خولې ګنډلې دي.

تاند ویبپاڼې ته د یو شمېر اعتصاب کوونکو عکس هم رسېدلي دي.

په عکسونو کې ښکاري چې بندیانو خولې ګنډلې او داسې معلومېږي چې څو ورځې کېږي هغوی په اعتصاب کې ژوند کوي.

د څینو بندیانو پر بدنونو د وهلو ټکولو یا شکنجې نښې هم تر سترګو کېږي او څینې نور یې تر هغه حده وهل شوي چې بدنونه یې په وینو رنګ دي او یې سیکه د کوټو یوې او بلې خوا ته پراته دي.

د زندان ساتونکو او چارواکو تر اوسه په دې اړه خپل نظر نه دی څرګند کړی.

د بشري حقونو افغاني سازمان هم پر دغه اعتصاب اندېښنه ښوولې او پر حکومت یې غږ کړی چې ژر تر ژره یې چاره وکړي او د بندیانو غوښتنو ته رسیدګي وکړي.

د افغانستان عدلیې وزارت د شمېرو له مخې د څرخي پله په زندان کې له ۷۰۰۰ څخه نیولې تر ۷۵۰۰ ته پورې بندیان ساتل کېږي.

د سوډان، افریقا، پاکستان، سعودي عرب او اماراتو تر څنګ د یو شمېر نورو ملکونو لکه تاجکستان، ازبکستان، ایران او چیچنیا ګڼ وګړي هم په دغه محبس کې د بېلابېلو جرمونو په تور بندیان دي.

د ارګ یوې سرچینې څه موده دمخه ویلي و چې ولسمشر کرزي د عدلیې او کورنیو چارو وزارتونو ته امر کړی چې د بشري حقونو د بهرنیو سازمانونو غړو او هغو بهرنیو حقوقي سلاکارانو ته هم زندان ته د ننوتو اجازه ور نه کړي چې په تېرو څو کلونو کې یې د محابسو په اصلاح کولو کې کار کاوه.

حاجي ظاهر قدیر او ورور ...

دوي استاد په لاس لري حق نه دی ور کړل شوی نو مجبور شول، چې د نه خوړو اعتصاب پیل کړي او په خبره یې دوی به تر هغه دې اعتصاب ته دوام ورکوي، ترڅو چې حق نه وي ور کړی:

"اعتصاب کوونکي: اووه کاله مخکې حاجي جماله مونږ نه پیسې واخیستې ویل یې، چې څمکه درکوو خو هیڅ معلومات یې ونشو، بیا اووه میاشتې مخکې جرګه وشوه هغه د مجلغې روبې هم ورکې شوې او حاجي ظاهر، چې مونږ سره وعده کړې وه، چې زمونږ د ځمکې مشکل به حلوي ده هم څه ونکړل او خپله د حاجي ظاهر خط هم مونږ سره موجود دی.

اعتصاب کوونکي: دا اعتصاب کوونکي چې ګورئ څوک د یو ولایت دی او څوک د بل ولایت دی مونږ په سود له صرافیو نه پیسې واخستلې او څو چنده راباندې زیاتې شوې، خو نه یې تر اوسه ځمکه راکړه او نه یې هغه خپلې پیسې او که مونږ ته خپل حق رانکړي مونږ به دا اعتصاب به همدې ځای کې روان وساتو".

دا ستونزه مو د حاجي ظاهر قدیر معاون ابرار الله سره شریکه کړه، نوموړي ووېل، چې په یاد ښارګوټي کې ډېره برخه خلکو ته ځمکې وېشل شوي او یوازې ډېرې محدود کسان پاتې دي، که ورشي نو د هغوي حق به هم ور کړي:

"د دوي حق شته ولې نه په همدې ښارګوټي کې ډېرو ته ځمکه وېشل شوي او دوی کې هم، چې د چا حق پاتې وي رادې شي مونږ به ځمکه ورکړو، خو دې اعتصاب ته خلک هڅول شوي او په دې کې ډېر داسې کسان هم شته، چې هغه په پیسو نیول شوي، تر څو د دې اعتصاب له لارې نه غواړي، چې د ظاهر قدیر هغه هڅې شنډې کړي، چې په راتلونکې کې لري".

د ابرار الله په خبره د دغه اعتصاب کوونکو ترڅنګ یو شمېر نورو هغو کسانو لاس دی، چې غواړي راتلونکي لاریون، چې د والي ګل اغا شېرزي پرضد کېږي ګډوډ کړي.

خو اعتصاب کوونکي، چې څانونه د کونړ، لغمان، نورستان او ننګرهار اوسېدونکي بولي وايي، چې دوی یوازې د خپل حق غوښتونکي دي او له دې وړاندې په وار وار د حاجي ظاهر کورته ورغلي خو په لیدو یې نه دي بریالي شوي، نو ځکه یې په اعتصاب لاس پورې کړ.

پاکستان منلي، چې له ډیورنډ ...

چې د افغانستان د دفاع وزارت د دوشنبې په ورځ د ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې د ډیورنډ پر کرښې د پاکستان له خوا د دروازې پر جوړولو سخت غبرګون ښود.

د دفاع وزارت چارواکي وايي، چې په همدې سیمه کې یې د پاکستان له خوا د پولسو امنیتي پوستو د جوړولو په اړه هم له پاکستانیو چارواکو سره خبرې کړې خو لا تر اوسه کومې نتیجې ته نه دي رسېدلي.

پاکستانیو چارواکو نوموړي هېواد ته د یوه افغان پوځي پلاوي له سفر وروسته موافقه کړې، چې د ننګرهار په ګوشتې ولسوالۍ کې پر ډیورنډ کرښې جوړه کړې دروازه به بېرته لېرې کړي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

افغان ترجمانان په خطر کې پاتې دي

ستراتفور خپرونه تر ۲۰۱۴ کال وروسته د افغانستان او پاکستان د اړیکو د څرنګوالي په اړه په یوه مقاله کې وايي:

پاکستان له ډېرو کلونو راهیسې د بېچلې سیاسي انتقال او د طالبانو له تشدد سره په مبارزه کې ښکېل دی.

د خپرونې په لیکنه، اسلام اباد تر فشار لاندې دی څو د ۲۰۱۴ کال تر پایه له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو تر وتلو مخکې، په خپل هېواد کې د طالبانو له خوا پیل شوې شخړې کمې کړي ځکه د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ خبرې چندان ګټورې نه وې او د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته د طالبانو د بیرته ستېدو وېره شته.

ستراتفور خپرونه زیاتوي، چې په افغانستان کې د طالبانو د نفوذ ټینګېدل به د اسلام اباد لپاره تر ټولو وحشتناک وضعیت رامنځ ته کړي، ځکه دا به پاکستان کې د طالبانو ملاتړ زیاتولای شي او د پاکستان پر شمالي سیمو د حکومت ټینګولو لپاره د پاکستان هیلې له خطر سره مخامخ کولای شي.

خپرونه زیاتوي، پاکستان هیله درلوده، چې په افغانستان کې د شخړو د پای ته رسولو لپاره به د امریکا او طالبانو ترمنځ موافقه له دوی سره په خپله خاوره کې د طالبانو په وړاندې په اقدام کې مرسته وکړي.

د ستراتفور په وینا، اوس چې له افغانستانه د نړیوالو ځواکونو وتلو ته تر یو کال لږ وخت پاتې دی، د واشنګټن او وسله والو طالبانو ترمنځ خبرو چندان مثبته نتیجه نه ده ور کړې.

ستراتفور وايي، تر هغو چې طالبان د ناټو ځواکونو تر وتلو وروسته په افغانستان کې یوه ایتلافي حکومت ته ور ګډ نه شي، پاکستان دې په دې هیله نه وي، چې په خپله خاوره کې وسله وال طالبان له جګړې را وګرځوي.

د خپرونې په لیکنه، د پاکستان سیاسي انتقال له بېلابېلو اړخونو په افغانستان کې له سیاسي ثبات سره تړلی دی.

ستراتفور وايي: پاکستان ته ښايي، چې له خپل ټول توانه کار واخلي او طالبان له افغان حکومت سره جوړجاړي ته وهڅوي.

پاکستان باید په خپلو طالبانو کې هم هغه کسان، چې مذاکرې ته تیار دي، پیدا او جذب کړي.

خو افغان او پاکستاني طالبان تر کومه حده په دواړو هېوادونو کې له قانوني بدلونونو سره جوړ جاړی ته تیار دي؟

د ستراتفور په باور، دا یوه اساسي پوښتنه ده.

نیویارک ټایمز ورځپاڼې د (د امریکایي ځواکونو افغان ترجمانان په تشویش او خطر کې پاتې دي) تر سرلیک لاندې مقاله خپره کړې، چې د سلیمان په نوم د یوه ترجمان ژوند ته کتنه کوي.

نیویارک ټایمز لیکي: اول وار د سلیمان پر موټر د وسله والو له خوا راکټي حمله وشوه، موټر یې یوې لوېې کندې ته لوېدلی وو او نږدې وو، چې ووژل شي.

وسله والو د هغه د نوم، د هغه د موټر د نمبر پلېټ او د هغه د دندې په اړه بشپړ معلومات درلودل او پوهېدل، چې هغه د ځانګړو امریکایي ځواکونو لپاره د ترجمان په توګه کار کوي.

وسله والو تر حملې وروسته داسې ګومان کړی وو، چې سلیمان وژل شوی دی خو سلیمان ژوندی وو خو غاړه او دوې پښتې یې ماتې وې.

دا حمله په ۲۰۱۱ کال کې شوې وه او له هغه راهیسې دوه واره نور هم پر سلیمان ورته حملې شوې دي.

د سلیمان امریکایي څارونکی اوس هغه ته اجازه نه ورکوي، چې کورته د تګ په وخت کې په موټر کې سفر وکړي خو بیا هم د هغه د امنیت په اړه ډاډ نشته ځکه وسله وال طالبان په هغو افغانانو پسې دي، چې د امریکاییانو سره مرسته کوي.

نیویارک ټایمز لیکي:

له دومره فشار او سخت کار سره هم د سلیمان تر ټولو لویه هیله، چې د امریکایي ویزې اخیستل وو، نیمګړې پاتې ده.

د افغانستان د فاع وزارت وايي، چې افغان پلاوي په دې سفر کې د پاکستان پوځ د اپراسیون له رییس جنرال اشفاق ندیم او د کشف او پلان جوړولو له مرستیالانو سره کتلي دي.

د دفاع وزارت د اپراسیون رییس جنرال محمد افضل امان، چې پاکستان ته یې د ټللي پلاوي مشري هم کوله د سې شنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل، چې دې پاکستاني پوځي مشرانو موافقه کړې، چې نن به دا جوړه کړې دروازه بیرته رنګه کړي:

"له پاکستاني خوا سره مو رسمي خبرې درلودې او نتیجه یې دا شوه چې پاکستانیو چارواکو ومنله، چې دې دروازې اندېښنې او شخړې پیدا کړې او موږ یې بیرته لرې کوو. دوی له موږ سره منلې چې دا دروازه به سر له نن هلته نه وي موجوده".

د پاکستان د پوځ د اطلاعاتو ادارې هم په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې د دواړو هېوادونو د پوځي عملیاتو مشرانو د دې ستونزې او په ګډه پوله کې د څینو نورو مسایلو په اړه خبرې کړې او دا ستونزه یې حل کړې ده.

پاکستان د حمل د میاشتې په شپږمه نېټه د ننګرهار ولایت د ګوشتې په ولسوالۍ کې د ډیورنډ د صفري نقطې په اوږدو کې د دروازې جوړول پیل کړل.

افغان چارواکي وايي، چې د دې دروازې د جوړولو کار اټیا فیصده پرمخ تللی،دغه راز د افغانستان د دفاع وزارت ویلي چې پاکستان په همدې سیمه کې یوولس امنیتي پوستې هم له خپلو پخوانیو ځایونو څخه ډیورنډ کرښې ته نږدې انتقال کړې دي.

د افغانستان د دفاع وزارت له دې امله د دوشنبې په ورځ سخت غبرګون وښود،د دې وزارت وياند جنرال ظاهر عظیمي د پاکستان دا کار د دواړو هېوادونو او د نړیوالو اصولو خلاف عمل وباله او وېې ویل چې افغانستان به د دې جوړې کړې دروازې د لرې کولو لپاره له هرې ممکنې لارې کار واخلي.

د افغانستان د دفاع وزارت د اپراسیون رییس جنرال محمد افضل امان وايي چې له پاکستانیو پوځي چارواکو سره یې ډیورنډ کرښې ته نږدې د پولسو امنیتي پوستو د لېږدولو په اړه هم خبرې کړې خو څرګنده یې کړه چې په دې اړه کومه نتیجې ته نه دي رسېدلي:

"د پولسو امنیتي پوستو په اړه چې د دې دروازې په اوږدو کې پرتې دي هم خبرې وشوې،د هغوی نظر دا وو چې دا پوستې په ۲۰۰۳ دریم میلادي کال کې جوړې شوې.

مونږ دوی ته وویل چې له دروازې سربېره دا پوستې که په ۲۰۰۳ میلادي کال کې هم جوړې شوې وي نوې او د موجودو موازینو خلاف دي".

د افغانستان د دفاع وزارت چارواکي که څه هم خوشینې ښیي چې پاکستاني چارواکي به د دې نوې جوړې کړې دروازې د لرې کولو په برخه کې خپلې ژمنې عملي کړي خو وايي که چیرې داسې نشي په هکله به یې د دفاع وزارت او د افغانستان د ملي امنیت شورا پریکړه وکړي.

کابل تردې وړاندې هم د ډیورنډ د کرښې په اوږدو کې د پاکستان لخوا د څینو تحرکاتو له امله پر اسلام آباد انتقادونه کړي عامو افغانانوهم پر کنړ او نورستان د پاکستان لخوا د راکټي بریدونو له امله څو ځلې مظاهرې کړي او دامسایل کله نا کله د دواړو هیوادونو پر اړیکو هم منفي اغیزې کړي.

برخی از وزرا و والیان ...

در این خصوص هیچ اقدامی نشده است.

عزیزالله لودین رییس این اداره میگوید که مبارزه با فساد اداری، مسوولیت یک اداره نبوده بلکه ازیک فردعادی تا رییس جمهور، مسوولیت دارد که علیه فساد اداری مبارزه و همکاری جدی نماید.

به گفتهٔ وی، در دوسال گذشته ۱۹۰ دوسیهٔ فساد اداری که مربوط اشخاص بلندرتبه به شمول وزیران، والیان، شاروال ها وافراد عادی بوده، به لوی خارنوالی ارسال شده؛ اما خارنوالی درقسمت رسیدگی به آن بی توجه بوده است.

لودین، نام این مقامات را مشخص نکرد و با انتقاد از لوی خارنوالی گفت: "ما با خارنوالی درقسمت رسیدگی به دوسیه های فساد اداری مشکل داریم؛ به همین دلیل چندین بار به رییس جمهور پیشنهاد کردیم که حداقل خارنوالی مبارزه با فساد اداری را ازژگاه اجراآت، مربوط اداره عالی مبارزه بافساداداری نماید تا بدانیم که دوسیه های ما تا کجا میرود و بالاخره چه میشود؟"

با وجود تماس های مکرر به لوی خارنوالی، دسترسی برای اخذ نظر آن پیدا نشد.

رییس اداره عالی مبارزه با فساد اداری گفت که واقعیت این است که باوجود تلاشهای انجام شده در امرمبارزه بافساد، این پدیده درافغانستان هنوزهم به شکل گسترده وجود دارد ومبارزه با این پدیده نیازمند یک عزم ملی است.

وی افزود: تازمانیکه هماهنگی وهمکاری بین ادارات مختلف دولتی وجود نداشته باشد، نتیجهٔ مطلوب از مبارزه با فساد اداری که مردم وجامعهٔ جهانی انتظار آنرا دارند، به دست نخواهدآمد.

لودین تصریح کرد که باید رییس جمهور، وزراء، والیان و سایر مقامات عالی حکومت، در مبارزه با فساد اداری تلاش جدی نمایند.

وی در نشستی که بخاطر امضای تعهدنامهٔ آگاهیدهی در پیوندبه فساد اداری در کابل دایر شده بود، صحبت میکرد، هشدار داد: "هر کسیکه در هرمقامی باشد، حتی رییس جمهورهم اگر باشد، در فساد اداری آغشته باشد، در برابرش عقب نشینی نخواهیم کرد و مردم را در جریان خواهیم گذاشت."

این تعهدنامه بین وزارت ارشاد، حج واوقاف وادارهٔ عالی مبارزه با فساداداری امروز به امضا رسید.

دربخشی از این تعهدنامه گفته شده که وزات حج واوقاف، مسوولیت داردکه توسط علما در مساجد و حسینیه ها و از طریق کنفرانس ها و رسانه ها، مردم را از اضرار فساد اداری آگاه سازند.